شریعت
ورځپاڼه
SHARIAT DAILY
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارګان

شپږم کال۷۸ګڼه پرله پسی (٤٥٨) دوشنبه د۲۲ ۱٤ هـ ق کال د شعبان المعظم (۲۰) د۱۳۸۰ هـ ش کال دعقرب(۱٤) د۲۰۰۱ میلادی کال دنومبر(٥)

د صلیب پلوه ملیشو له خوا نیول شوی سیمی ډیرژر بیرته فتحه شوی

مزارشریف-باختر:
دبلخ ولایت دآق کپرک ولسوالی اړوندی سیمی ورمه ناوخته دصلیبی ائتلاف دمزدورو ملیشو له شتوالی څخه په بشپړه توګه پاکی شوی.

دامریکا او دروسیی مزدورو ملیشو دبلخ ولایت په مربوطاتو کی دجبهی په لومړیو کرښو کی دامریکا او دانګلستان دتیری کوونکو پوځونو دسختو بمباریو له امله له فرصت څخه په استفادی سره ورمه ورځ داق کپرک ولسوالی په مربوطاتو کی په برید ونو لاس پوری کړ چی په لومړی سرکی یی ددغی ولسوالی په شاوخوا کی ځوسیمی ونیولی داسلامی اردو مجاهدینو دیوه متقابل تعرض په بهیرکی ددغی ولسوالی ټولی سیمی بیرته دصلیبی ائتلاف دمزدورو ملیشو له شتوالی او ناولتیا څخه پاکی کړی.

ددغو عملیاتو په بهیرکی په لسګونو تنه ملیشی وژل شوی او ټپیانی شوی او ددښمن یوه اندازه وسلی او مهمات هم داسلامی اردو دمجاهدینو لاسته ورغلی دی.

الهی فرمان

[illegible]
لمبادچی [illegible]
عادیان [illegible]
وکړل (دخ[illegible]
دبر طاقت [illegible]
بی هلاک کړل [illegible]

دوقوماندان مخالفین به صفوف مجاهدین اردوی اسلامی [illegible]
بااین قوماندانان بیست وپنج تن افراد شان نیز شامل اند

تالقان – باختر:
یك گروپ مسلح مخالفین بانیروهای اردوی امارت اسلامی افغانستان درمربوطات ولسوالی اشکمش ولایت تخار یك جا گردیده است.

گروپ بیست وپنج نفری مسلح به سرگرده گی رحیم افغان وقوماندان محمد حنیف در مربوطات ولسوالی اشکمش تخار باقطعات وجزوتامهای مجاهدین اردوی امارت اسلامی یك جاگردیده [illegible]
ص۳

داطلاعاتو اوکلتور وزیر مولوی قدرت الله جمال:

دامریکاجنایتونه په نړیوالو مطبوعاتوکی نه منعکس کیږی

صلیبی ائتلاف داسلامی نړی پرضد پراخ هوایی او تبلیغاتی برید پیل کړی

امریکا نړیوال مطبوعات انحصار او سانسور کړی او دخپلو تبلیغاتی وسایلو څخه په استفادی سره [illegible] منفی فعالیتونه اوخپل ښکاره تیری اسلامی هیواد ونو ته مثبت ښودلی په اسلامی ټولنو اوپه خاصه توګه په افغانستان کی دموجودو واقعیتو نوله منعکس کولو څخه مخنیوی کوی دغه مطلب دافغانستان داسلامی امارت داطلاعاتو اوکلتور وزیر محترم مولوی قدرت الله جمال
۲مخ

دالمان خلکو پرافغانستان هوایی بریدونه وغندل

برلین :
دالمان په زرګونو تنو خلکو پرون دهامبورګ او کین په ښارونوکی دمظاهرو په کولو سره دافغانستان په اسلامی امارت باندی دامریکا بیرحمانه بریدونه وغندل دنړیوالو خبری منابعو دخبرله مخی قهرجنو مظاهره
٤مخ

خصومت امریکا با مسلمانان ازکجا ناشی میشود
ص۲

اولین کاروان مواد غذائی مردم جاپان وارد کابل شد

کابل – شریعت :
طی چند روز آینده کمك های بشری مردم جاپان برای ده ها هزا خانواده نیازمند درشهر کابل تقسیم میگردد . خبرنگارروزنامه در زمینه چنین گزارش میدهد .
تداوم سه دهه بمبار دمان ص۳

دروسیی مطبوعات

امریکا دطالبانو دځواک په هکله غلط اټکل کړی

دروسیی مطبوعاتو خبرداری ورکړیدی که چیری دامریکا متحده ایالات [illegible] دافغانستان په اسلامی امارت باندی څمکنی نظامی عملیات وکړی دبشپړی ماتی سره به مخامخ شی.

دروسیی یوه ورځپاڼه په خپلی پرونی ګڼی کی لیکی
٤مخ

سخن روز
این همه تاسیسات عام المنفعه میباشد نه کمپ های القاعده

درجریان بمباردمان حملات راکتی وحشیانه قوای متجاوزامریکا وانگلیس برخی از تاسیسات بزرگ برق رسانی ،صحی ،مخابراتی خدمات اجتماعی وفرهنگی مردم افغانستان از بین رفته است اکنون که حملات وحشیانه قوای متجاوز امریکا ومتحدینش به افغانستان وارد چهار مین هفته خود گردیده است به وضاحت روشن ومعلوم گردید که اکثراین
ص٤

عکس :په خاطر قلعه کی دمهرحسین کور چی روانو بمباریو ورته وران کړی

PROPERTY OF ACKU S 1789
عکس :دخبرخانی په پروژه جدید کی هغه کورچی درواتو ښاربوله کبله یکی دبوی کورنی ۹ تنه غړی شهیدان شول

۳۱مین کنفرانس بین المللی یونسکو پایان یافت

سی ویك مین کنفرانس بین المللی یونسکو درپاریس پایان یافت

درین کنفرانس پیشرفت ورشد تعلیم و تربیه وحفظ اثار فرهنگی درسراسر جهان ودیگر مسایل مربوط به آموزش وپرورش مورد بحث همه جانبه قرارگرفت.

درکنفرانس [illegible] گان [illegible] هشتاد وهشت کشور جهان شرکت [illegible] بودند.

هشت نهاد اجتماعی زنان یونان:
جنگ امریکا علیه افغانستان بیرحمانه است

عکس : منزلی را نشان میدهد که در اثربمباردمان بی رحمانه امریکا دو طفل در آن به شهادت رسیده است

اعضای نهاد های اجتماعی زنان یونان از دولت یونان خواستند تا در جنگ بی رحمانه امریکا علیه افغانستان شرکت نکند.

اعضای نهاد های اجتماعی یونان طی راه پیمائی های اعترا ض امیزشان با هرنوع سیاست جنگ طلبی ابراز مخالفت نمودند این تظاهرات توسط فدراسیون زنان یونان فرا خوانده شد ه بود ودر آن اعضای هشت نهاد اجتماعی زنان یونان شرکت داشتند.

روسیی له یوی وچی تیریدونکی توغندی وازمویه

روسیی یو قاره پیما توغندی په بری سره از مویلی دی .

دروسیی داردو یوه ویاندوویل چی دغه اس اس پنځه ویشت ډوله توغندی دهغه هیواد په شمال کی له یو ی فضایی اډی څخه ازمویل شوی دی.

روسیی په دی وروستیو میاشتو کی دقاره پیماتوغندیو ازموینی زیاتی کړی دی.

سرمقاله
دلوی او بښونکی خداءج، په نامه

تروریزم او دتروریزم عوامل

تروریزم هغه ټکی دی چی دنړی په ډیر و برخوکی استبداد ی نظامواو په خلکو دخوښی پرته حکومتونو ورڅخه ښه ګټه پورته کړی خو دتیرسپتمبر له یوولسمی وروسته چی کومی پیښی رامنځته شوی امریکااو متحدینو یی چی تردغه عنوان لاندی کوم شوراو تالان ګډکړی او ددوی په اصطلاح دتروریزم د له منځه وړلو عملیات یی پیل کړی ترهرڅه مخکی دیته ضرورت لری او پردی خبره غوراو فکر ته اړتیا ده چی لومړی باید څه ډول ددغه ترروریزم عوامل له منځه لاړشی ؟ ! چی کولای شو بیا دغه عوامل هم په خپل وارسره تروریزم وبولو.
۲مخ

شـــریعت

دتاسیس کال :۱۳۷۴ هــ ش
:دلیکوال هیئت ترنظرلاندی
مسؤول مدیر: مولوی اسدالله «حیدری»
مـــرستیال: مـلامحمد ابراهیم «نبیل»
دیوی ګڼی بیه: په هیوادکی(۱۰۰۰)افغانی په پاکستان کی (۳)کلداری
ټیلفون: ۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات:۶۲۸۵۹
پست بکس : (۴۷۱)کابل افغانستان
جاری حساب : ۴۰۳۸۵ دافغانستان بانك مرکز
کمپوز: احمدجاوید «فقیری» چاپ : امارتی مطبعه

دسرمقالی پاتی برخه

ویښو دخپلو خاوند اتو له اندیښنه سره سم که چیری په ښوبارک او واشنګټن کی درامنځته شویو پیښو تراو دمنځنی ختیځ له کړکیچ سره پرتله کړو نو ترهرڅه مخکی باید هلته دخلکو په رواغوښتنو سترګی پټی نه شی او له یوه طرف سره له طرف کیدونه مخکی څرګند، ښکاره او ربښتونی حقایق په نظر کی ونیول شی ځکه اوس ټول نړیوال په دی عقیده دی او وینی چی په منځنی ختیځ کی داسرائیلو بشری ضد فعالیتونه دامریکا دمتحده ایالاتو دمټ په زور تر سره کیږی او دبی وسلی فلسطینی مسلمانانو په کورونو له توپونو او ټانکونو سره ورخیږی.

دغه رنګ دعراق مسلمانان او بی ګناه ماشومان لاهم وژل کیږی او په بی ځایه او ناروا بندیزونوکی شپی او ورځی تیروی په چیچنیاکی سره له دی چی په عامو مسلمانانو دروسی یرغلګرو دظلم او په بشری حقوقو دتیری راپورونه ورکړای شول خود بشرغمخوارو اواوسنیو مدعیانو پری غوږ ونه ګراوه .

دکشمیرمسلمانان چی دخپل رواحق او آزادی غوښتونکی دی دهندی عسکروله خواه په بی رحمانه توګه وژل کیږی او دغو وژنو ته یی دوام ورکړی.

دافغانستان مظلوم مسلمان ولس چی دکمونستی سوسیالیستی یرغل دترخوشیبو له زغم نه وروسته دقدرت په بلو سرواور ونو او دبی سرپرستی په سختو ناخوالو او وحشتونو کی راګیر او دځان دخلاصون یوا زینی لاربی طالبان ولیدل له هغو سره په پوره یووالی کی یی ددغو ناخوالو او کړاوونو ختمولو ته ملاوتړله او په نتیجه کی ددوی دخوښی یو اسلامی نظام او اسلامی امارت رامنځ ته شو نړیوالی ټولنی او په سرکی امریکا ددی په ځای چی ددغه ځوریدلی ملت ددرد ددوالپاره ددغه نظام ملاتړ او ورسره مرسته وکړی ددغه نظام په وړاندی یی دخنډونو ستونزو او ستکلاتو دراپیدا کولو هڅه پیل کړه او دټولو رواومنل شو یو حقوقو څخه یی سترګی پټی او هم یی دیرناروا او بی ځایه اقتصادی بندیزونه پری ولګول.

داودی ته ورته دنړی په ټولو مسلمانانو تیری او په حقوقو یی خیټه اچول هغه څه دی چی په مقابل کی یی ټن هره هڅه او مبارزه ترورېزم ګڼل کیږی.

که یوازنی څو بادشوی تکی او دنړی په هره برخه کی له خپلو حقوقو څخه دمسلمانانو دفاع او مبارزه ترورېزم، وی نو لو مړی باید دغه ترورېزم او یاد (ترورېزم) دغه عوامل له منځه یووړل شی دهرچاروا غوښتنو ته په درنه وکتل شی او له دی وروسته په هره نړیواله قضیه کی له عدل او انصاف څخه کارواخستل شی له دی پرته دخبرو اومفاهمی لاری بندول اوپه هرڅه کی له وچ زورنه کاراخیستل به هڅکله چاته داد من ژوند وروته بخښی اولکه څنګه چی عالیقدر امیرالمومنین دسپینی ماڼۍ واکدارانو ته ویلی چی « په دی ډول به یی ډیرکړی کم به یی نه کړی » نوربه هم دزور او ظلم په وړاندی دمظلومو پرګنوجذبی راوپاریږی او دخپلو حقوقو دترلاسه کولو لپاره به هرراز هڅوته لاس کړی.

خصومت امریکا با مسلمانان ازکجا ناشی می شود

حمیده

بعداز کسب استقلال افغانستان ،قاره آسیا از بلای اسارت و برده گی به تدریج نجات پیداکرد . آزادی شرق دور ، هندوچین وشرق میانه یکی پی دیگر ازچنگال امپریالیزم برتانیه مدعاء این حقیقت است ،حصول استقلال در دین مقدس اسلام یك فریضه عینی می باشد . کلمات جهادوحدیث در قرآن مجید تذکر داده شده مسلمانان رابه آزادیءفرامی خواند ،مسلمان فقط به ذات اقدس تعالیٰ سجده می کند وبس، به انسان به حیث همنوع خویش لطف ، رحم ، عاطفه و حرمت را روامی دارد واگر کسی ظلم راانجام میدهد برایش خیرات بالمثل توصیه میشود .

همه ،این ها تحت قانون الهی تحقق پذیراست که دراصطلاح امروزی ایدیولوژی «مفکوره» اسلامی را تعین و تثبیت می کند . این اید یولوژی برخلاف ایدیولوژی استعمارگران که ازانسان استفاده ناجائز می کنند مغایرت دارد و متضاد باآن و اقع میگردد از همین سبب است خصومت امریکا این فرزند ارشدبرتانیه که بعد .ازکسب استقلال شرق میانه شدت می گیرد تا مسلمانان به شکل جدید «استعمار نو» تحت تسلط امریکا قرار گیرند.

نخست اهل یهود را از سراسرجهان جمع نمودوتحت ایده صهیونیزم ایشان را داخل اولین قبله مسلمانان نمود وکشوری بنام اسرائیل ایجاد کرد ، آغاز مقابله اسرائیل بامسلمانان تحت حمایه و رهبری امریکا با عث شدتا مسلمانان عرب به ویژه فلسطینی ها که جز سلاح ایمان دیگر چیزدر دست نداشتند مورد حملات نظامی وتجاوز اسرائیلی ها قرارگرفتند و درنتیجه هزاران مسلمان از طرف سازمان جاسوسی موسادو CIA به شکل بی رحمانه شهید و ملیونها تن دیگر در سراسرجهان پراگنده وآوراه می گردیدند وبه شکل بد زنده گی فقیرانه ودرگرسنگی تام حیات بسر می بردند.

اما جنبش های اسلامی نه تنها خاموش نشد ند، بلکه نهضت های اسلامی وحکومات اسلامی عرض اندا. کرد .امریکا در این حال قوت نظامی خویش رااز طریق اکمال اسرائیل یك بار دیگر نشان داد ، سوریه ولبنان را هم مورد تجاوز قرار داد که خوشبختانه مقاومت مسلمانان باعث شکست اسرائیل وامریکاگردید و اما آنچه اسرائیل انجام داد بمباردمان و تخریب کشورهای اسلامی بود ودیگر دست آوردی نداشته . امریکا در لیبیا هم تجاوز نمود وآن کشور را مورد حملات نظامی قرار داد که بعداز تسلیمی افراد مسوول از طرف لیبیا در بم گذاری طیاره امریکا در بحر مدیترانه به محکمه بین المللی ،آن محکمه ایشان را مقصر ندانست وبیگناهی شان اثبات شد که این خود رسوایی امریکا می باشد.تشویق کشورهای ایران وعـراق درجنگ سرحدی از طرف امریکا ، مداخله امریکا در کویت وعراق و بالاخره ایجاد پایگاه نظامی امریکا در داخل کشور عربستان همه بیانگر خصومت امریکا بامسلمانان است .حملات نظامی امریکا بیش از ده سال میشود که علیه مردم عراق ادامه دارد قابل تذکرمی دانیم که در اولین روز های حمله بر مردم عراق چند نفر وابسته ،امریکا که عراقی بودند از امریکا در سی گرفتند وگفتند:ما بعداز صدام قدرت را بدست می گیریم که تاکنون این پلان CIA موفقانه نبوده است امریکا در زیر نام ملل متحد درتیمور شرقی و آسیای میانه هم فعالیت های خصمانه ، تحت اجرا دارد غرض تحقق پلان های سری امریکا افغانستان تحت نقشه توسعه طلبانه ومغرظانه امریکا قرارگرفته است در این مورد امریکا در جلسات شوراٰی امنیت ملل متحد ، جلسات کشورهای همسایه وسایر اجلاس های بین المللی در قبال افغانستان موضع در ظاهر بی طرفانه ودر باطن خصمانه ،اتخاذ نموده است ،طی چند سال اخیر که کشورما در جنگ و آتش می سوخت امریکا به عوض محو مصیبت ، جنایتکار ان ،روشنفکران احساساتی و سرمایه داران افغانی را به طرف خود دعوت وتابعیت به ایشان داد تا این کشور از نگاه کادروسرمایه خالی شود وعاملین جنگ از تعقیب در امان باشند تا این که برای دیگر جنایتکاران هم زمینه تشویق غرض قتل و تخریب این سرزمین مهیا گردد ،دیگر هیچ اقدام امریکا در این زمینه انجام نداد ، اگر از نگاه کمك های بشردوستانه محاسبه کنیم به وضوح دیده می شود که هر کمك باید مستقیم به حکومت طرف مقابل از طریق وزارت پلان داده شود نه انجو ها که در واقع متعهد حکومت به دیگران اند، ایجاد گردد.

اقدام دیگرامریکابی ثباتی در نظام مالی و روان مردم که از خشکسالی و جنگ های چندین ساله زنده بیرون آمداند درافغانستان است به همین خاطر امریکا کشت کوکنار، ثبات مرکزی ،جمع آوری سلاح وده ها حیله دیگر را درصدر تبلیغات خود قرار داد که همه شان محو شد ،محدود ساختن راه های ترانزیتی کشور از طریق زمین وهو ا اقدام دیگری از جانب امریکا بود تاهویت این کشور در سطح جهان ناشناخته باقی بماند . بسته نمودن حسابات شرکت هوائی آریانا از جمله فعالیت های خصمانه امریکا غرض کاهش ارزش افغانی وکشر معاملات اسعاری ما بود. تذکرداده می شود که در حسابات کشور های مختلف جهان قبل از سال ۱۳۷۰ هـ ش مبالغ بسیار زیاد اسعار از درك تجارت پوست قره قل ، معاملات تعاونی و تجارتی به حالت رکود می باشد و از طرفی اسناد بعضی از شرکت های افغانی در کابل به اثر جنگ ها سوخته است .

حملات جدید امریکا به بهانه اسامه علیه افغانستان باوجود تحریمات قبل وترور های متداوم امریکا جزخصومت علیه این مردم چیز دیگر تلقی شده نمی تواند بمبارد مان متواتر میدان های هوایی که به شکل آباد و تجهیز شده بودومورد استفاده مسافرین ملکی و انتقال کارگو مورد ضرورت مردم این کشور قرار میگرفت واصلاً هدف استفاده نظامی نداشت محوکرد. (البته این کشور از خط آهن نیز محروم بود)بعداً به تخریب تاسیسات مهم مانند مساجد ؛فابریکات برق ،تاسیسات زراعتی ،باغات ، کلینیك ها ،مراکز امدادی ومحلات مسکونی مبادرت ورزیدند که ارزش آنها به ملیارد ها افغانی می رسد وامریکا که هیچ وقت به کشور ،کمك ننموده است در آینده هم متیقن ایم که آن کشور جز سود خود دیگر اقدامی نخواهد کرد پس نتیجه گیری میشود که امریکا جز ویرانی این وطن واین مردم دیگر هدفی ندارد.

به قول ربانی و معاون جبهه امریکا درافغانستان طالبان به آسانی شکست نمی خورند. از این گفته دو هدف برآورده میشود اول ناامید شدن از موفقیت خویش دوم طولانی ساختن شعله آتش جنگ درکشور ، چنانچه در پروتوکول بین امریکا و ازبکستان ،پایگاه خان آباد آن کشو ر برای مدت پنج سال دراختیار قوای نظامی امریکا قرارداده شده است هویدا است .که امریکا برای مدت کوتا به افغانستان نه بلکه به مدت طولانی برای آسیا خطر بزرگی به خصوص برای مسلمانان است .

دراین مورد اعتراض جوامع بین المللی مانند سازمان عفو بین المللی وشخص سرمنشی ملل متحد بلند شده ولی امریکا در خصومت با اسلام هرروز زیاد تر خود را آماده می سازد که این سیاست از نگاه داخلیٌ ضرر اقتصادی فراوان رابه امریکا متوجه می سازد و از نگاه خارجی امریکا را از ببر کلان به موش کوچك مبدل ساخته است ،البته امریکا بعداز شکست باید به محکمه بین المللی جبران خسارات کند و، از مسلمانان جهان به خصوص ملت افغان پوزش بطلبد که انشاالله رسوایی وشکست نصیب امریکا خواهد شد ومردم افغانستان با ایمان به خداوند «ج» همان طوریکه از زیر سلطه انگلیس وروس موفق بدرآمدند ، از چنگال خون آشام امریکائیان هم موفقانه در سطح جهان سربلند خواهد کرد.

دامریکاجنایتونه په نړیوالو مطبوعاتوکی . . .

دیوی پوښتنی په ځواب کی ځرګند او زیاته یې کړه .

صلیبی ائتلاف یو ستر هوایی او تبلیغاتی برید زموږ دهیواد پرضد پـه لاره اچولی دی هره ورځ پـه سلګونو بمونه دهیـواد په ملکی او داستوګنی په سیمو غورځوی تولګنی تاسیسـات او داستوګنی سیمی ویجاړوی خو ددی لپاره چی نړیوال مطبوعات به په دسیسو او تطمیع سره ترخپل تاثیر لاندی راوړی ددوی دغه حـ... ځرګنده چی لازمه ده په نړیوالو مطبوعاتو کی نه منعکس کیږی او نړیوال مطبوعات دافغانستان دموجودو واقعیتونو دملکی خلکو دتلفاتو او دانګلیس او امریکا دیرغلګرو پوځـونو دجنایاتو د خبرولو څخه ډډه کوی چی دغه سرغړونی د ژورنالیزم له ټولو اصولو څخه سرغړونه ده.

محترم مولوی قدرت الله جمال زیاته کړه: امریکائیانو او انګلیسانو د خپلو ښکاره او تروریستی بریدونو سره به افغانستان باندی له ډول ډول مدرنو وسلو څخه کار اخستل شوی دی چی تراوسه پوری ورڅخه ګټه نه وه اخستل شوی لکه دکروزتو غندی او دکلستر بمونه او زهرجن او کیمیاوی ډول ډول بمونه چی دافغانستان په خلکو غورځول شوی ګډ هرات په ښارکی داستوګنی په سیمو باندی دخوشه یی بمونو غورځول چی په دغه ښارکی دملکی اوسیدونکو دسترو تلفاتو سبب شول ددغه بمونو ډولونه داسی نوری وچی په افغانستان کی دماین پاکولو موسسی له امریکا څخه وغوښتل چی ددغو ماینو تودله منځه وړلو لپاره ددی نوعیت او ځرنګوالی بیان کړی.

داطلاعاتو او کلتور محترم وزیر ووېل له نړیوالو مطبوعاتو څخه زموږ غوښتنه داده چی موږ دقضیی یوارخ یوا و دخپل ملت استازی یو او تر یرغل لاندی نیول شوی یو.

بایدنړی مطبوعات اوډله نیز وسایل په ښه توګه خپل مسوولیتونه اداکړی ... زموږ غوښتنی ،منی او زموږ غوښتنی او ځرګندونی دتلفاتو داحصائیې په باب اودملکی تلفاتو اوله هغه څخه د ناوړو پایلو ا ودهغه خطر چی دسیمی سولی ته مخـا مخ دی باید په حقـه منعکس کړی او دمطبوعاتو خپلو اکی تو سوال لاندی راته وړی هرکله چی امریکا یو متجاوز قوت دی موږهم دخپل ملت استازی یو او دخپل ملت له برحقه داعیی څخه دفاع کوو.

په افغاني ټولنه باندي داستعماري کلتور او فرهنګ اغېزي

کاکا زاده

فرهنګ دیوه ملت د تاریخي ټولنېزو پدېدو مفسروي . فرهنګ د ملتونو داجتماعي تکامل تصویر اودژوندانه هنداره ده . پدي مانا چي کولای شو د تاریخ په اوږدو کي د ملتونو دژوندانه په مختلفو اړخونو کي دهغوي ټولنېز کرکتر ددوي **دودونه** ، رسمونه او مذهبي فعالیتونه چي په واقعیت کي دا ټول توکي دفرهنګ په نامه کي **سره** غوټه کېږي وګورو .

فرهنګ دځمکي په سر دبشري ژوند له پیل سره پیل کېږي او بیا د تاریخ په اوږدو کي د مختلفو پېښو **په** ترڅ کي خپل د تکامل پړاوونه وهي . ولي که وواېو چي فرهنګ د تاریخ په یوه معین پړاوکي دانجام نقطي ته رسېږي او یا هم رسېدلي دي نو دابه له یوي اشتباه نه پرته بل څه نه وي . ځکه فرهنګ دبشر دفکري او تولېدي قواوو له انبساط سره سم تکاملي سېر طي کړېدي . د ساري په ډول کله چي په لومړي ځل د ځمکي په سر بشري ژوند پیل شو نو پېمانه یې ډېره محدوده وه او انسانان حتی دژوند له اولیه پر نسیپونو سره هم نا خبره او نا اشنا و .

فکري او تولېدي قواوو بې انکشاف نه وکړي او له ځو محدودو توکو پرته هغوي په خپل ژوند کي هیڅ څه هم نه درلودل . بشري ژوند پرته لدي چي دنژاد او خاوري اختلاف په نظر کي ونیسو تقریباً په هر ځاي کي پر ډول او په یوه شکل و چي وروسته بیا ټول بشري ژوند له اړتیا سره سم تدریجاً د تکامل په لوري پړاوونه ووهل چي دبشري ژوند دغه ټولنېز تکامل تر تاریخي دوري چي عمدتاً په مصر او بین النهرین کي دصوتي رسم الخط له ترویج نه را پدېخوا دوره ګڼل کېږي ، رارسېدلي دي .

له تاریخي دوري نه را پدېخوا د علماؤ د څېړنو او پلټنو په پابله کي مونږ وینو چي انساني ژوند څومره تکامل کړېدي او پدغه مرحله کي نه یواځي دا چي بشر ځان له تجرېد او انزوانه را ایستلي دي بلکي دنړي نورو برخو ته یې هم مخه کړېده او هلته یې مختلف النوع ټولني را منځته کړېدي . څنګه چي په دغو ټولنو کي دمېشتو انسانانو دژوندانه سطحه او نور ټولنېز مناسبات سره ورته و ځکه نو د مناسباتو ددغي تساوي په نتیجه کي مدنیت - CIVIL-LIZATION را منځته شوېدي چي له ځانه یې دیوي معېني دوري ټولنېز آثار مونږ ته ژوندي پرېښي دي .

په انساني ژوند کي ددېن او مذهب د پدېدو له تداخل نه وروسته د ژوند انه په ټولنېزو خصلتونو کي ژور بدلونونه را منځته شوېدي . دا چي انساني ژوند تل د ټولنېزو تحولاتو تر اغېزي لاندي راغلي دي او دنړي پر مخ د مدنیتونو او فرهنګونو دتشکل عوامل هم همدا ټولنېز تحولات دي ځکه نو په انساني ټولنو کي ددېن له دخالت نه وروسته مذهبي پر نسیپونو او وګړنېزو د ودونو دخپل امتزاج په پابله کي نوي مدنیتونه او نوي فرهنګونه را منځته کړېد ي.

له تاریخي دوري را پدېخوا دځمکي پر سر د ګرندېو تحولاتو ستر عامل ښایي همدغه دېني فکتور وي . دېني شعایرو او ولسي دودونو که په خپل امتزاج سره انساني ژوند د اعتلاء لورپړاوته رسولي دي نو له بله پلوه هغه فرهنګ چي ددادول تعادل په ترڅ کي منځته راغلي دي ثابت ندي پاتي شوي بلکي د ټولنېزو پر مختګونو سره جوخت یې وده کړېده . ځېني توکي یې دوخت په تېرېدو سره له لاسه ورکړېدي او ځېني نور یې دعیني ضرور تونو پر بنسټ له نورو نه داغېز اخستني په ترڅ کي تر لاسه کړېدي .

زمونږ لرغوني فرهنګ هم په واقعیت کي دټولنېزو تحولاتو زېږنده ده او هغه څه چي د تحولاتو په ترڅ کي منځته راځي هغه «منطق» د کلیه قاعدي (کل متغیر حادث) له مخي حادث وي او حادث شي طبعاً داغېز اخستني خاصیت لري د زماني له هغي مقطع نه چي یوازي دټولني تاریخ پیل کېږي مونږ دمختلفو مدنیتونو او فرهنګونو تر اغېز لاندي راغلي یو . که څه هم افغانان ډېر له پخوا دیوه ځانګړي فرهنګ څښتنان و،ولي وخت په وخت ټولنېز تحولات او دعصر غوښتني ددي باعث شوېدي چي افغاني فرهنګ هم خپل دغناء مراحل تېر کړي . په افغاني ټولنه کي دنورو ملتونو دفرهنګ دنفوذ په ترڅ کي څه کمي او کیفي بدلونونه رامنځته شوېدي ولي افغانانو هېڅکله هم اجازه نده ورکړي چي پردي فرهنګ په من وعن ډول په پټو سترګو په ځان ومني.

که واقعیت ته تېر شو زمونږ فرهنګ دتاریخ په اوږدو کي ډېر کم اغېز منونکي واقع شوېدي بلکي د اغېز اچوني پله یې تل درنه پاتي شوېده . مونږ دخپلي دغي ادعا دثبوت لپاره یواځي دیوه مثال په یادولو بسنه کوو . افغانستان دقبل المیلاد په اتمه پېړي کي زردشتي آئین دایران خاوري ته صادر کړ ولي پوره دري پېړي وروسته یعني دقبل المیلاد په شپږمه پېړي کي یې له ارامي الفبا نه متشکل خروشتي رسم الخط له ایران نه ومانه چي په هغه وخت کي د خروشتي رسم الخط ترویج زمونږ د فرهنګ دیداېني او اجتماعي مناسباتو د ښه تأمین په لاره کي یو ستر ګام بلل کېده .

که څېړ شو نو په داخبره راته جوته شي چي افغانانو وکولاي شول ایران ته د زردشتي آئین د انتقال په وسیله په هغي ټولنه کي بنسټیز بدلونونه رامنځته کړي چي دا پخپله زمونږ د فرهنګ په اغېز اچونه باندي دلالت کوي او پر ځاي دد ي چي دایراني ټولني نور نفوذ ته یې پخپله خاوره کي اجازه ورکړي واي یواځي درسم الخط په نوربدېسته کوي .

په لاندي کرښو کي به وګورو چي استعماري فرهنګ او کلتور زمونږ په ټولنه باندي څومره ناوړه اغېز کړېدي .

دقبل المیلاد ه دریمي پېړۍ په نیمایي کي چي کله دیونانو باختري GREECPBAKHTARI دولت زمونږ په خاوره کي استقلال اعلان کړ له ختیځ لوري ته دهندوستان دموریایي دولت لښکري د سند له سیند نه راپور ي وتلي او دهندوکش تر لمنو یې ځانونه ورسول د موریایانو دغه سریع حرکت زمونږ په تمدن کي دژور بدلون باعث شو . هغه داسي چي زردشتي آئین لور د ډېرو حوادثو تېرېدو له امله خپله اصلي بڼه له لاسه ورکړي وه او تقریباً دانحطاط په حالت کي و چي په دغه ترڅ کي هندي مبلغینو زمونږ په ټولنه کي دبودایي آئین اصول معرفي کړل . دغه نوي آئین چي خلک یې د خپلو اخلاقو داصلاح هغه هم ددنیا او مافیها دپرېښودو له لیاري دعوتول زمونږ په ټولنه کي ددوو فکتورونو له امله ژور نفوذ وکړ .

لومړي دا چي دزردشتي آئین خپله اصلي څېره مسخ شوي وه او دډول ډول خرافاتو په نتیجه کي دمذهبي کاهنانو د انحراف له امله یې دخلکو په منځ کي خپل محبوبیت له لاسه ورکړي و او دهېواد له لوېدېزي څنډي پرته یې په نورو سیمو کي د معتقدینو چندان خوند نه و .

دوهم دا چي دیونانو باختري دولت له سخت اقتصادي ضعف سره مخامخ و او د ډېرو مؤثر ځینو په آند یونانو باختري دولت د تمي سترګي دغني هندوستان پلو نیولي وي ځکه یې نو له لویه لاسه زمونږ خاوري ته د بودایي آئین د ورود هیڅ ډول مخنیوي ونه کړ .

تر دي ټولو مهمه افغانستان باندي دسکندر مقدوني راتګ و ،واقعیت دادي چي په افغانستان باندي دسکندر مقدوني استیلا زمونږ دلرغوني ټولني ستني سره ولړزولي او دژوند د نورو چارو په ګډون یې زمونږ فرهنګ هم له یوه ژور بدلون سره مخامخ کړ سکندر مقدوني چي له ځان سره ئي بې شمېره تنکي اېله جاریان او ښایسته ډېر علما او هنر مندان راوستلي و ، زمونږ د ټولنېز ژوند د بدلون او یا په بل عبارت د تجدد باعث شو مجردو اېله جاریانو یې زمونږ په ټولنه که ودونه وکړل ا و هغه عنعنوي توکي ئي چي له ځانه سره راوړي و زمونږ له ولسي دودونو سره ګډ کړل چي دغو توکو د لږ وخت په تېرېدو سره د یوه نوي فرهنګ بڼه غوره کړه . علماو او هنر مندانو یې پخپل وار سره د یوناني مدرسي فلسفه زمونږ خاوري ته وارده ا و ډېر ژر یې په خلکو ومنله .

دبودایي آئین انکشاف او دیوناني استیلاء ګرانو صنعت او ځېني نور ولسي دودیز توکي ددي سبب شول چي زمونږ په لرغوني ټولنه کي یو نوي فرهنګ د ګریکو بودېک یا یونانو بودائي په نامه رامنځ ته شي . هغه وخت یعني دقبل المیلاد له دریمي نه تر لومړي پېړي پوري زمونږ په هېوادکي مجسمه سازي ، حکاکي ، د مهرونو جوړولو او دنجاري فنونو پوره وده کړي وه او هغه وخت یې په نړېوالو مارکېټونو کي ښه نوم درلود . که څه هم هغه مهال خلک په مختلفو ژبوګړېدل او ښایي ځانته ځانته دودونه به یې هم درلودل ولي هغه څه چي واقعیت دي هغه دا چي ټول دګریکو بودېک پر محور سره را څرخېدل .

افغانانو که له یوي خوا دمختلفو باندنیو استیلاء ګرانو د فرهنګ مختلف توکي په خپله ټولنه کي منلي و ددي تر څنګ نورو ټولنو ته دخپل فرهنګ د لېږدوني په لاره کي هم تر هېچا شاته نه دي پاتي شوي چي ښه ساري یې په همدغي دوره کي دهند و چین خاوري ته دګریکو بودېک فرهنګ لېږدول دي چي که د تاریخ پاڼي وپلټل شي نو جوته به شي چي مرکز ي آسیا کي ډېري برخي ، په چین کي دسن کیانګ سیمه او په هند کي د سیالکوټ په ګډون نوري ګڼي سیمي دیونانو بودائي فنونو او صنایعو مرکزونه و . د یادولو ور ده چي د باندنیو استیلاء ګرانو د نفوذ په وخت کي افغانانو تل خپل هویت ژوندي ساتلي دي او هېڅکله یې هم چاته د خپلي امحاء اجازه نه ده ورکړي هغه فرهنګي نفوذ چي نورو ټولنو په افغاني ټولنه کي کړي و عمدتاً د عیني ضرورتونو پر بنسټ ولاړ و . افغانان چي له اصله ډېر متهور او شجاع واقع شوېدي په همدومره اندازه له لوري حوصلي او درنو او صافو نه هم برخمن دي همدا لامل دي چي تر هر څه وړاندي ئي د مختلفو مذاهبو لوړ اخلاقي پرنسیپونه په ځان منلي دي.

ګریکو بودېک فرهنګ او هنرونه له یونانو باختري دولت نه وروسته د کوشانیانو په دوره کي چي له څلوېښتم نه نیولي تر دوه سوه شل میلادي کلونه ئي په برکي نیولي دي نور هم و غوړېدل او په دغه وخت کي چي زمونږ په ټولنه باندي د یونانو باختري فرهنګ آثار ښکارېدل د یونانو بودائي فرهنګ په انکشاف سره تقریباً په کلي ډول له منځه ولاړل .

دهډي او هندوکش د ځېنو شمالي او جنوبي برخو آثار هم د کوشانیانو په وخت کي دفرهنګ او هنر د پوره ودي غمازي کوي د کوشانیانو په وخت کي له یوي خوا ګریکوبودېک هنر خپل صعودي قوس د عروج تر نقطي پوري طي کړي و، ولي له دوي نه وروسته یې د یفتلیانو ا و ساسانیانو په وخت کي نزولي مسیر طي کړ .

د مختلفو حوادثو له ا مله ټولنه له تشتت او پراګنده ګي سره مخامخ شوه او د ټولني د قشرونو تر منځ مناسبات خراب شول . اخلاقي قدرونه تر پښو لاندي شول سیاسي نظامونه تحلیل ا و یا هم په ملوک الطوایفي بدل شول،خوري وري سیاسي ډلي د قدرت د ترلاسه کولو په غرض او یا هم د ژبنیو او مذهبي تمایلاتو پر بنیاد را وټوکېدلي او دخپلو منفي تمایلاتو په عنوانونو سره یې په ټولنه کي سخته ګډوډي رامنځ ته کړه .

باندني استعمار ګران په دي لټه کي شول تر څو زمونږ ټاټوبي چي له څه مودي را پدېخوا یې دژوندانه په ټولو ساحو کي ښه پر مختګ کړي و تر خپل اغېز لاندي راولي چي پدغسي حالت کي ناڅاپه د عربو په جزیره کي داسلام انګازه خپره شوه . اسلام د اسماني ادیانو په ډله کي هغه وروستني دېن دي چي الله تعالی جلت عظمته دخپل خاص حکمت له مخي د ټولنو د رفاه او بهبود او په ژوندانه کي دیوه نظم او دسپلین د رامنځته کولو په منظور د حضرت محمد (ص) په وسیله دقرآنکریم د متبرکو آیتونو په ترڅ کي نازل کړ . **پاتي لري**

اولین کاروان مواد غذایی . . .

افغانستان و بیچارګی وضعیت دلخراش اقتصادی افغانها ذهنیت های بسیاری از دوستداران بشر را در شرق و غرب جهان بر انګیخته است .

در زمره ملت های نیک اندیشیکه ،نسبت به مردم افغانستان از خود خیلی خویشتنداری نشان داده یکی هم ملت جاپان است .

جاپانی ها که از بلند مدت بدینسو طبیعتاً با افغانها ګرایش نیک داشته اکنون نیز تأثرات انسانی خویش را در قبال این حملات توأم با ارسال هدیه های ګران قیمت شان عنوانی افغانهای بی بضاعت عمیقاً نشان دادند .

حبیب الرحمن «زلمی» یکتن از مسوولین موسسه غیر حکومتی P.M.S (مرکز خدمات طبی مردم جاپان برای افغانستان) که مدتیست در شهر کابل فعالیت دارد در زمینه ورود این کمک ها میګوید :

ا ز آنجائیکه دوکتور « تتسو نکارا » به نمایندګی از مردم جاپان در راس این مرکز قرار دارد موصوف در کنار انجام خدمات صحی P.M.S برای افغانها که از دیری بدینسو خدمات کلینیک های پنجګانه این موسسه در نقاط مختلف شهر کابل نقش قابل ملاحظه دارند سلسله برنامه توزیع مواد غذایی را که این بخش هم شامل مساعدت های خاص مردم جاپان برای مردم مستضعف و فقیر افغانستان میګردد از سر ګرفته است .

نامبرده افزود: دور اول این برنامه که هفته قبل برای ۲۲۰۰ خانواده مستحق بشکل منظم در شهر کابل توزیع ګردید شامل آرد و روغن میشد که برای هر خانواده مستحق ۲۰۰ کیلو آرد و ۱۶ کیلو روغن در نظر ګرفته شده بود ؛ این در حالیست که سلسله توزیع مواد غذایی ما برای شهر وندان شهر کابل و سیعاً ادامه خواهد داشت ؛ البته در صورتیکه اوضاع امنیتی کابل آن چنانیکه همین حالا متصور است بعداً هم همینګونه به حال خود باقی بماند هیچ مانع و مشکلی در قبال توزیع و جود نخواهد داشت و P.M.S میتواند همانطوریکه مصمم است ده ها هزار خانواده پریشان دیګر را نیز در ین شهر الیٰ رسیدن زمستان بطور عاجل مساعدت کند.

ګفتنی است که مواد غذایی این برنامه از بیرون کشور خریداری میګردد و قبل از توزیع هیأت ویژه P.M.S مستحق ترین خانواده های کابل را در نقاط مختلف شهر دقیقاً بر مبنای اصول اسلامی و انسانی سروی و انتخاب مینماید . **مهربان**

نـامه وارده

قابل توجه ریاست محترم موسسه الرشید ترست

به اداره محترم روزنامه وزین شریعت

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته !

میخواهم ازطریق شما که همیشه آواز درد مندان ومستمندان را به گوش مسوولین امور رسانیده اید موضوعی را به موسسه خیریه الرشید ترست خصوصاً مسوول این اداره محترم ملاخیل برسانم تاباشد با درنظرداشت شرایط جاری اقتصادی ونظامی کشور در رفع این مشکل اقدام نمایند:

به همه مردم وجهانیان واضح ومعلوم است که موسسه خیریه الرشید ترست به شهامت ودلسوزی علمای دینی خبازی های را برای دستگیر ی ازبینوایان ومستمندان ایجاد نمودکه این کار ایشان از یک جهت شکستی بود برتعزیرات سازمان ملل و از جانبی خیر وفلاح اخروی دست اندرکاران این عرصه .

اما مشکل مردم ما این است که خبازی های الرشید ترست حتی یک هزار افغانی نوت پنجصد افغانیگی را نمی گیرند واز جانبی قسمی که مشاهده شده خبازی های متذکره درآردی که موسسه الرشید ترست دراختیار شان قرار میدهد تقلب مینماید یعنی نان پخته شده از طریق این خبازی ها مملو از ریگ وخام است.

مسوولین موسسه محترم درجریان است که اکثریت دارنده گان کارت این خبازی ها را مامورین واشخاص فقیر شهر ها تشکیل میدهد که معاش ودادوستدپول این اشخاص بجز از پنجصدافغانیگی نوتهای دیگرنیست وحتی معاش مامورین پنجاه فیصد نوت خورد وپنجاه فیصد نوتهای کلان میباشد بناً تقاضا داریم درپهلوی این همه دلسوزی که باغربا ، فقر ا ومستمندان نموده اند درقسمت قیمت نان وهمچنان در قسمت اخذ پول از طرف خبازان خویش اقدام جدی نمایند من به نماینده گی ازا هالی شهرکابل برای موسسه خیریه الرشید ترست موفقیت های بیشتر از خداوند «ج» استدعا مینمایم.

آصف عبدالله
ازعاشقان وعارفان (ع)

دامریکاجنایتونه ...

دیوی پوښتنی په ځواب کی ځرگندکړاو زیاته یی کړه .

صلیبی ائتلاف یو سترهوایی او تبلیغاتی برید زموږ دهیواد پرضد په لاره اچولی دی هره ورځ په سلگونو بمونه دهیواد په ملکی او داستوگنی په سیمو غورځوی ټولگټی تاسیسات او داستوگنی سیمی و بجاړوی خو ددی لپاره چی نړیوال مطبوعات په بدماشی او تطمیع سره ترخپل تاثیر لاندی راوړی ددوی دغه جنایت ځرنگه چی لازمه ده په نړیوالو مطبوعاتو کی نه منعکس کیږی او نړیوال مطبوعات دافغانستان دموجودو واقعیتونو دملکی خلکو دتلفاتو او دانگلیس اوامریکا دیرغلگرو پوځونو دجنایاتود خپرولو ځخه ډډه کوی چی دغه سرغړونی د ژورنالیزم له ټولو اصولو ځخه سرغړونه ده.

محترم مولوی قدرت الله جمال زیاته کړه :امریکائیانو او انگلیسانو د خپلو ښکاره او تروریستی بریدونو سره په افغانستان باندی له ډول ډول مدرنو وسلو ځخه کار اخستی دی چی تراوسه پوری ورځخه گټه نه وه اخستل شوی لکه دکروزتو غندی او دکلستر بمونه او زهرجن او کیمیاوی ډول ډول بمونه چی دافغانستان په خلکو غورځوی .د هرات په ښارکی داستوگنی په سیمو باندی دخوشه بی بمونو غورځول چی په دغه ښارکی دملکی اوسیدونکو دسترو تلفاتو سبب شول ددغه بمونو ډولونه داسی نوی وچی په افغانستان کی دماین پاکولو موسسی له امریکا ځخه وغوښتل چی ددغو ماینو نودله منځه وړلولپاره ددی نوعیت اوځرنگوالی بیان کړی.

داطلاعاتو او کلتور محترم وزیر وویل له نړیوالو مطبوعاتو ځخه زموږ غوښتنه داده چی موږ دقضیی یوارخ یواودخپل ملت استازی یو او تر یرغل لاندی نیول شوی یو.

بایدنړی مطبوعات اودله نیز وسایل په ښه توگه خپل مسوولیتونه اداکړی او زموږ اوښتنی ومتنی او زموږ غوښتنی اوځرگندونی دتلفاتو داحصائیی په باب اودملکی تلفاتو اوله هغه ځخه د ناوړو پایلو ا ودهغه خطر چی دسیمی سولی ته متوجه دی باید په حقه منعکس کړی او دمطبوعاتو خپلواکی تو سوال لاندی رانه وړی هرکله چی امریکا یو متجاوز قوت دی موږ ده دخپل ملت استازی یو او دخپل ملت له برحقه داعیی ځخه دفاع کوو.

درقوماندان مخالفین . . .

ووعده سپردند که درجهاد مقدس علیه قوای متجاوز ائتلاف صلیبی آماده هرگونه جانبازی وفداکاری میباشند.

قوماندان حنیف ورحیم افغان گفته است موجودیت علنی وآشکار عساکر ومشاورین نظامی قوای متجاوز ائتلاف صلیبی در صفوف اتحاد شمال برای ما قابل تحمل نبوده و تصمیم گرفتیم که درکنار اردوی امارت اسلامی ومردم خویش علیه قوای متجاوز امریکا وانگلیس ومزدور ان داخلی برای دفاع از تمامیت ارضی واستقلال ملی تاآخرین لحظات زنده گی خویش بـرزمـیـم .

دالمان خلکو پر افغانستان...

کوونکو د امریکا پرضد شعارونه ورکول او په افغانستان کی دامریکا پوځی عملیاتو باندی یی کلک انتقاد ونه وکړل.

دوی په افغانستان کی دملکی خلکو دتلفاتو په باب د خپلی اندیښنی دځرگندولو په ترځ کی ددغو وحشیانه بریدونو ددیـرژر بندیدو غوښتنه وکړه.

قلم والوته!

داوسنی وضعی په نظرکی نیولو سره دشریعت ورځپانه دهیواد پوهانو ، لیکوالانو ، او دقلم خاوندانو ته وړاند یزلری داچی:

په اوس وخت کی دقلم مسولیت او له ورځپانی سره دهمکاری له مخی دروانی وضعی په اړه خپلی ارزښتناکی لیکنی او مطالب له ورځپانی دریغ نه کړی او دخپل قلم له لاری قلمی جهاد دشریعت په سنگرکی [illegible] سره کړی .

په درښت - اداره

پته : دوهم مکروریان امارتی مطبعه

دشریعت ورځپانی دفتر یا داطلاعاتو او کلتور وزارت

رئیس جمهور وینزویلا حملات بیرحمانه امریکا را محکوم کرد

رئیس جمهوروینزویلا حملات وحشیانه ایالات متحده امریکا را به امارت اسلامي افغانستان شدیداً محکوم نموده است.

رئیس جمهور وینزویلا طي مصاحبه تلویزیوني ضمن ابراز نگراني از تلفات ملکي در افغانستان از ادامه حملات نظامی امریکا به افغانستان شدیداً انتقاد بعمل آورده است ایالات متحده امریکا در اعتراض به این اظهارات رئیس جمهور وینزویلا سفیر ش را از آنکشور فراخوانده است.

دلندن په ښارکی یوه زوروره چاودنه وشوه

لندن - باختر:

ورمه شپه په لندن کی په یو ډیس بوټ کی یوه سخته چاودنه وشوه.

ددغی چاودنی له امله دیس په لسگونو تنه سیمرلی چی زیاتره یی دپولیسو افرادو تپیان شویدی.

دپولیسو تپیانو روغتیایی حالت خراب بلل شویدی تراوسه پوری چا ددی چاودنی مسوولیت په غاړه ندی اخیستی خو دانگلستان حکومت دایرلند جمهوری غوښتونکی اردو ددغی پیښی مسوول بللی دی .

عکس :په کابل ښار کي واده ته په گلانو ډوبیل شوی موټر ځغلوی ځکه په ښار کي د واده او د وارخطایی خبر ردوی

عکس :دخیبرخاني په ملکي ساحه کي دغربي یرغل دوحشت یوه بله بیلگه عکاسی یوسف

این همه تاسیسات . . .

حملات متوجه اهداف ملکی وتاسیسات بزرگ عام المنفعه اجتماعی بوده که مردم عام آزان بهره مند میگردید.

از بین رفتن شفاخانه یکصد بستر هرات دومرکز صحی در قندهار سیستم آب رسانی وبرق رسانی آن شهر تخریب مرکز مخابراتی هرات وسیستم دیجیتل مرکز ،به شهادت رساندن چندین محرا ب مسجد در شهرهای هرات قندهار واطراف ولایت خوست وبمباردمان شدید میدان های هوائی ملکی کابل هرات قندهار جلال آباد مزارشریف شبرغان قندز وبمباردنمودن شاهراهای عمومی کابل جلال آباد وکابل قندهار واز بین رفتن تمام تاسیسات مربوط آن حمله وحشیانه به مرکز فرستنده های رادیو صدای شریعت ، تخریب وانهدام مراکز مخابراتی کندهار، جلال آباد ، مزارشریف ،سمنگان وسایرشهرهای دیگر وبه دهها مراکز و تاسیسات بزرگ عام المنفعه میتوان نامبرد که درجریان بمباردمان هوائی وحملات وحشیانه راکتی قوای متجاوز امریکا وانگلیس منهدم واز ربین رفته است .

شفاخانه یکصد بستر هرا ت که چندی قبل مورد حملات وحشیانه قوای متجاوز قرارگرفت در آن بیش از یکصد نفر به شمول پرسونل طبی وخدماتی ومریضان داخل بستر آن به شهادت رسیده اما جلادان قرن بیست ویکم وقاتلین مردم افغانستان هریک بوش وتونی بلیر هنوز براین جنایت بزرگ خود اعتراف نمی کند ومیگویند که ماچندین کمپ القاعد ه را در افغانستان از بین بردیم .

بلی !این تاسیسات کمپ های القاعده ومراکز نظامی نه بوده بلکه تاسیسات عام المنفعه میباشد که با عرق ریزی ملت مظلوم ومسلمان افغانستان بعداز استقرار امارت اسلامی افغانستان دوباره احیا وباز سازی گردیده واز سوی قوای متجاوز امریکا و انگلیس طور بی رحمانه مورد بمباردمان هوائی قرار گرفته است.

امریکا دطالبانو . . .

چی امریکا دطالبانو دخواک په باب غلط فکر کړیدی او دغه غلطه ځیرنه دهری ورځی په تیریدو سره روښانه کیږی .ورځپانی ددغه حقیقت په اشاری سره چی دافغانستان په ښارونو باندی دامریکا دځلورو اوونیو بمباری هیڅ نتیجه نده ورکیږی لیکی چی دغه وحشیانه بمباری دنړی دکلک غبرگون سره مخامخ شویده او هم د طالبانو لیکی یی له پخوا زیاتی مظبوتی کړیدی.

په افغانستان باندې دامریکا یرغل له اسلام سره دجگړې پیل دی

په افغانستان باندي دامریکا وحشیانه بریدونه له ماتي او رسوایي پرته دسپیني ماني واکمنانو ته کومه بله لاس ته راوړنه نلري.

دباختر داطلاعاتي آژانس خبر یال زموږ دیو شمیر هیوادوالو او دنظر دخاوندانو له خولي خبر راکړ دافغانستان په خلکو باندي دامریکا دهوایي پوځ بمبـاري چي هیڅ راز انساني او قانوني توجیه نلري نه یوازي دافغانستان دخلکو امریکا ئي ضد ولولي یي راپارولي دي بلکي دنړي مسلمانان یي هم دي ته هڅولي دي چي دامریکا دغه بشري ضد عمل په کلکه وغندي

دکابل ښار دیوي مدرسي استاد نظر محمد وایي په افغانستان باندي دامریکا دیرغل پیل له اسلام سره دجگړي پیل دي او داسامه موضوع داسلام دمبین دین پرخلاف دامریکا دجنایتونو دپټولو لپاره یوه پلمه ده ځکه تراوسه پوري زموږ دهیواد مسلمانان چي په ټول ځواک سره داسلا م دفاع کوي دامریکا ددغو بریدونو له امله زیانمن شویدي.

زموږ یوتن هیوادوال وحیدالله یداسي حال کي چي په خوراکي مواد و بار کراچي لیږدوي وایي که ځه هم دامریکا بریدونه دملکي خلکو دمړو دزیان سبب شوي دي خو زموږ دخلکو دژوندانه په بهیر باندي یي هیڅ راز اغیزه نده کړي ټول دپخوا په شان په خپلو ورځنیو کاروتو او فعالیتونو بوخت دي.

SHARIAT DAILY
Published by:
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:Mawlwi. Assadullah.Haidari
Editor :M.Abrahim.Nabil
Composed by:Ahmad Jawed .Faqeer.

تـــوجـــه!

ایمان شما اجازه نخواهدداد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتی بگذارید